مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم ۲۰۲۳/۰۴/۰۲

د کرهکتنې غوښتنې

کرهکتنه د هنري اثارو تلل او سپړل دي. دغه تله د کرهکتنې له اصولو رغېدلې ده او کاڼي يې د هنرونو تيورۍ دي.
دلته خبره پر ادبي کرهکتنه ده نو په کار ده چې بحث مو لا نور اختصاصي شي.
په ادبي کرهکتنه کې مور د ادبي اثر ښکلاوي او نيمګړتياوي معلوموو او محک مو د ادبياتو تيوري وي. نو که څوک نقد کوي، ورته بويه چې د ادبياتو تيوري يې نهيوازې دا چې مطالعه کړې وي، بلکې دغه تيوري يې بايد سمه درک کړې او ځان يې په کې ملا کړی وي. کرهکتونکی بايد ادبي مکتبونه وپېژني او دېر ادبي اثار يې لوستي وي. البته د کرهکتنې خاص ډولونه بيا نوره مطالعه هم غواړي. مثلاً د اروا‌پوهنيزې کرهکتنې لپاره کرهکتونکی بايد اروا‌پوهنه ولولي. په ټېره بيا د دې پوهې عمده او منل شوي تيورۍ بايد خامخا ولولي او ځان پرې پوه کړي، مثلاً د فرويد او آدلر اروا‌پوهنه، سلوکي اروا‌پوهنه، جنايي اروا‌پوهنه .... د عادي کرهکتنې لپاره هم د اروا‌پوهنې اساسي موضوعات مو بايد زده وي. دا راسره مرسته کوي چې وګورو ليکوال د کرکټر/ کرکټرونو اروايي اړخ څنګه انځور کړی دی. ځينې ليکوال د ډارمو او فلمونو په ډېښو په خپلو کيسو کې ځينې صحنې جوړوي، مثلاً کله چې يو کرکټر ناڅاپه يو بد يا ډېر حيراوونکی خبر اوري، لاسونه يې سره جلا شي او که فرضاً په لاس کې يې ګېلاس وي، هغه ولوېږي. ممکن په داسې حالتونو کې د ځينو کسانو غيرارادي غبرګون همداسې وي خو د ټولو نه. د اروا‌پوهنې مطالعه راسره مرسته کوي چې وپوهېږو په غيرعادي، هېښوونکو، خپهکوونکو، خوشحالوونکو ... حالتونو کې انسانان څه ډول غبرګون کوي او چې په دې پوه شو، بيا کيسې له دې نظره سمې ارزولی شو.
ادبي کرهکتنه څو دندې لري:
يو؛ د ادبي اثر په نقد کولو سره د هغه اثر له خاوند سره مرسته کوي چې خپلو خامیو ته يې پام شي او په نورو اثارو کې ځان له دې نيمګړتياوو څخه وساتي. همدرانګه نور ليکوال هم چې دغه نقد لولي، دې ته يې پام کېږي چې څنګه خپل کارونه تر وسې پورې له عيبونو پاک کاندي.
دوه؛ کرهکتنه د ښو اثارو په معرفي کولو سره د خلکو ذوق لوړوي. زمور په هېواد کې عام ذوق ټيټ دی. مثلاً زمور عام خلک داسې شعرونه خوښوي چې محض احساسات او شعارونه په کې ليکل شوي وي. يو آزاد شعر که څومره هم اوچت وي، عام خلک يې ښايي په دې نهخوښوي چې وزن، قافيه او رديف په کې نشته. نو که مور ښه کرهکتونکي ولرو او خلک نقدونه ولولي، کېدای شي چې لږ تر لږه د تعليميافته وګړو ذوق يو څه پورته شي.
دريؤ؛ نن سبا کتابونه بېشمېره خو وخت لږ دی. کرهکتنه خلکو ته هغه اثار وروپېژني چې په لوستلو ارزي او د خلکو وخت نه ضايع کوي.
څلور؛ کرهکتنه د ابتذال په مخنيوي کې مرسته کولای شي. څرنګه چې اوس مطبوعات ازاد دي او هرڅوک هرڅه چاپولی شي، نو ممکن داسې کتابونه هم چاپ شي چې ادبيات بازاري او مبتذل کاندي. کرهکتونکي پر دغسې اثارو د نيوکې له لارې دا حالات تر يوه بريده کنټرولولی شي.
البته چې هنر ازادي غواړي او بنديزونه يا په تنګو چوکاټونو کې د هنري اثر ايسارول، د خلاقيت مخه ډب کوي خو له بلې خوا بېخرته ازادي د بېبندوباری سبب کېږي نو کرهکتنه بايد دغه انډول په پام کې ونيسي او هغه هنري بغاوتونه وزغمي چې د فردي خلاقيت په نتيجه کې رامنځته کېږي.
اروابناد اکاډيمسين محمدصديق روهي وايي: «هر اثر چې له چاپه راووځي او خپور شي، نور نو هغه د ټولنې د فرهنګ جز بلل کېږي او د ټولنيز ملکيت د بڼې په غوره کولو سره خپله انفرادي جنبه له لاسه ورکوي. نور نو څوک نهشي کولای چې د دغه اثر په وړاندې بېتوپېره پاتې شي بلکې د يوې ټولنيزې پديدې په توګه برخورد ورسره کوي او ګټور او زيانمن اړخونه يې راسپړي». (سرمحقق محمد صديق روهي، د ادب او فولکلور په هکله، ۳۵ ام مخ، ۱۳۶۵، دولتي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مطبعه) د دې خبرې مانا دا ده چې هېڅ اثر او هېڅ لیکوال/شاعر تر نقد پورته نه‌دی خو دا پوښتنه هم مهمه ده چې هرڅوک به د نقد کولو جوګه وي؟
کره‌کتنه د ادبیاتو د پوهنځیو د نصاب اصلي برخه باید وي او ځوک چې ادبیات لولي، د ادبیاتو پر تیورۍ سربېره د کره‌کتنې له اصولو او مکتبونو هم باید خبر وي. په غربي ملکونو کې اکثره کره‌کتونکي د ادبیاتو د پوهنځیو استادان وي. زه نه‌پوهېږم چې زمونږ د ادبیاتو په پوهنځیو کې کره‌کتنه او د دابیاتو تیوري څومره او څنګه تدریسېږي.
دا چې زمونږ په وطن کې ډېر څه آماتوري بڼه لري او مسلکیتوب چنداني نه‌شته نو پر کره‌کتنې بحث کول، ضروري برېښي. زمونږ ځینې کره‌کتنې یا یو مخ ستاینه وي یا یو مخ رټنه. ملګرتیا او تربګنې د ځینو کره‌کتنو اساس وي. دلته په کار ده چې خبره اخلاقو ته واړوو. که ځوک د کره‌کتنې اخلاق وپېژني او مراعات یې کړي نو له ډېرو جنجالونو به خلاص شو.
یوه ورځ مې ډاکتر احسان‌الله درمل ته پر یوه داستان د نقد لیکلو وویل. هغه وویل: «زما په نظر ځوک چې په یوه ژانر کې عملي تجربه نه‌لري، باید نقد وربانديې ونه‌لیکي.» د ده خبره ځکه سمه ده چې کله کله وینو ځینې کسان پر یوه کیسه نقد ولیکي خو نقد یې د کره‌کتنې پر اصولو برابر نه‌وي. یا به د داستان پر تخنیکي اړخونو خبر نه‌وي او یا به یې دا تخنیکونه مطالعه کړي وي خو خپل کړي به یې نه‌وي. که یو ځوک عملاً کیسه لیکي، پر دې به پوهېږي چې دغه تخنیکونه څنګه کارول کېږي او کله چې د بل کیسې ته کره کتنه کوي، ښېګڼې بدګنې یې ورته له وریا ښکاري. البته زمونږ په وطن کې ډېر کسان شته چې کیسې لیکي خو پر تیوریکي اړخونو یې نه‌دي خبر. همدارنګه ډېر داسې کسان دي چې نقد کوي خو د کیسې یا شعر په تخنیکونو نه‌پوهېږي.
د اخلاقو یو اصل دا دی چې په هغه څه چې نه‌پوهېږو، خوله خلاصه نه‌کړو. نو که ځوک په دې نه‌پوهېږي چې لیدلوری څه دی او څو ډولونه لري، راوي ځوک دی او د روایت کوم ډولونه لرو، د مکالمې ځانګړتیاوې کومې دي او د کیسې کومه برخه مکالمه غواړي، غوټه څه ده، ټکر څه دی، کیسه‌ییز نثر څرنګه وي او له عام نثر څخه یې توپیر دی، د توصیف، خلاصې او صحنې تر منځ اندول څنګه رامنځته کېږي، د ژبې موسیقي، آهنګ او سلاست څه دی او له مانا سره څه تړاو لري، د کلمو ضمني ماناوې کومې دي، سېمبول څه دی او څه شی سېمبولیک ماهیت لري ... نو داسې کس باید هېڅ کله دې ته زړه ښه نه‌کړي چې د چا پر کیسې نقد ولیکي.
همدارنګه هغه کس دې پر شعر کره‌کتنه نه‌کوي چې د شعر په ماهیت نه‌پوهېږي، پر بدیعي او بیاني صنعتونه یې سر نه‌وي خلاص، تشبیه، استعاره، سېمبول، پاراډاکس او تشخص نه‌پېژني، د ژبې ښکلاییز اړخونه لکه وزن، آهنګ او موسیقي نه‌وي ورمعلوم ...
د اخلاقو بله غوښتنه عدالت او بې‌پرېتوب دی. که کره‌کتونکی دغه اخلاقي اصل مراعات کړي، خپلې شخصي عقدې، کرکې، ملګرتیا، تربګنې ... به یوې خوا ته پرېږدي او د ادبي اثر پر ځای د هغه خاوند تر قضاوت لاندې نه‌نیسي. دی به په خپل قضاوت کې خپلو احساساتو ته د مداخلې حق نه‌ورکوي.
هنر د باورونو، سیاسي مفکورو او ایډیالوژیو په زنځیرونو نه‌ترل کېږي. کره‌کتونکی باید نړه هنر وپېژني او د هنر پر ازادۍ باورمن وي. کره‌کتونکي ته نه‌ښایي چې د یوه ادبي اثر په ارزولو کې د ایډیالوژۍ ذره‌بین وکاروي.
همدارنګه که کره‌کتونکی د اثر یوه برخه ناسمه ګڼي نو دغه وړتیا باید ولري چې مناسب بدیل/ بدیلونه ورته وښیي او ووایي چې که دغه برخه داسې شي، بهتره به وي.
ښه کره‌کتنه باید هغه هېنداره وي چې د یوه اثر ښکلا او بدرنګي دواړه راوښیي. هېنداره مبالغه نه‌کوي، نه له ځانه څه زیاتوي، نه د چا له څېرې څخه څه کموي. ښه کره‌کتونکی هم باید همداسې وي او خپله لیکنه له مبالغو او احساساتي ویناوو پاکه وساتي. همدارنګه خپله خبره باید دقیقه، صریحه او واضحه وکړي. د وینا د دقت لپاره قیدونو ته اړتیا لرو. مثلاً که د یوه شاعر په شعر کې یو بیت تر نورو بیتونو لږ بې‌خونده وي، بهتره ده ولیکو چې دغه بیت یې تر نورو بیتونو نسبتاً کمزورى دی، نه دا چې ووایو دغه بیت یې بېکاره دی.
د شدت او درجې د قیدونو او د صفتونو بې‌خرته استعمال زمونږ په نثرونو کې نسبتاً عام دی او دغه شی مبالغې ته لاره هواروي. مثلاً ډېرسخت، خورا بې‌خونده، زښته خرابه، ډېر عالي، ... کره‌کتنه علمي چاره ده او د نورو علمي لیکنو په شان اکاډیمیک نثر رانه غواړي. اکاډیمیک نثر خنثی، دقیق، صریح او واضح نثر وي. زما په باور د اروښاد محمدصدیق روهي، استاد اسدالله غضنفر، اجمل پسرلي او استاد اجمل ښکلي لیکنې که وګورو همدغه ځانګړنې لري نو که ځوک غواړي نقد ولیکي، بهتره ده چې یو ځل د دوی لیکنې ولولي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ